# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

لیکوال او شناند: نظرمحمد مطمئن
۳۱ می ۲۰۱۵

## زه هم د پښتو ورځې لمانځلو حق لرم!

د پښتو ورځ لمانځل چې د پښتون خوځښت په نوښت د جمعي ورځ د ۲۰۱۵ د می پر ۲۹مه جوړه شوې وه، هغه توپیر چې له نورو ناستو سره یې درلود، د لمانځلو تر څنګ یوه علمي غونډه هم وه. احساسات پکې ډیر نه و، بلکې د پښتون قوم پر سیاسي او کلتوري ستونزو، حل لارو، د هیواد او قوم اقتصادي وضعیت، د اقتصاد اهمیت او اړوند عامه پوهاوی، د قوم اقتصادي خوځښتیا، د هیواد او قوم پرمختګ او سولې اړوند یې ویناوالو ته د ویناکولو زمینه برابره کړې وه.

د نورو ښاغلو ترڅنګ ما هم د ډیورنډ دواړو غاړو ته د پښتنو پر ستونزو او داخل د سولې پر اړتیا خبره وکړه. په دې کې داسې ټکي هم دي چې د وخت د کموالي له امله یې ډیره تشریح نه شوای کیدلای، او ممکن د ځوانانو په ذهنونو کې یې ډول ډول پوښتنې راولاړې کړې وي.

لومړې خبره دا وه چې د دغه عزیز قوم بچیان لا هم د پوهنې له بهیر څخه څه ډول چې مناسب وي بې برخې دي، په لیرې پرتو سیمو کې یې بچیان د ښوونځې له پاره ودانۍ نه لري، له دې سربیره ښوونکې هم نه لري.

د لوړو زده کړو په برخه کې هم د مور او میرې چلند شوی، د دغه قوم هغه بچیان چې ۱۲م ټولګی یې ویلې د ماسترې او دکتورا زمینه تر ډیره ورته نه ده چمتو شوې، مګر ځینې (ټول نه) چې بهر ته تللي هغوی هم زموږ په درد نه دي راغلي بلکې د پردیو تر تاثیر لاندې راغلي دي.

د قومونو د یوځای کیدو مسئله ده، په اروپا کې لږه‌کې په ډیره‌کیو کې ادغام کیږي، شرقي اروپا چې له شوروي اتحاد څخه جلا شوه، اوس اروپا نوی پروژه پر لار اچولې چې په ځینو هیوادونو کې د لږه‌کیو روسې ژبو له پاره دغه تبلیغات وکړي چې لږه‌کې باید په ډیره‌کیو کې مدغم شې، مګر په افغانستان کې برعکس هڅه روانه ده چې لږه کیو ته ډیر واک ورکړل شي او ډیره‌کې پر مخ په ځپیره وهل کیږي او حقونه یې لږه‌کیو ته ورکول کیږي، دا خو لا هم سوال نه پیداکیږي چې د درېیمي نړۍ په دې وروسته پاتې افغانستان کې د لږه‌کیو د یوځای کیدو (ادغام) پلان ته توجه وشي، له دې هاخوا ځینې رسنې د قومونو ترمنځ شخړو ته لمن وهي.

موږ هم وایو چې په افغانستان کې د قومونو د ادغام اړتیا نشته، ورونه قومونه دي، مګر شخړو ته خو دې لمن نه وهل کیږي.

د ډیورنډ دواړو غاړو ته تر ډیره په لوی لاس د حکومتونو له خوا همدا ډول د بېلابېلو معلومو او نامعلومو وسلوالو له خوا پښتانه سیاسي، نظامي، قومي مشران په نښه او له منځه وړل کیږي، چې مهمه مسئله ده او په جګړو کې بیا ځوانان وژل کیږي.

ولې يواځي په کراچۍ ، کويټه، پېښور او اړوند سيمو او وزيرستان کي جګړه ده؟ کله مو فکر کړی دی؟
موږ د هر مسلمان پر مرګ خفه کيږو، خو دا چي د پلان له مخي د ځانګړي قوم پر ژنوسايډ غور په کار دی.
د پښتون مشرتابه پر سر جګړه روانه ده، کرزي صاحب فکر کاوه که وسلوالو طالبانو سره سوله وشي، نو بيا دغه مشري له لاسه ورکوي، اوس ولسمشر غني هم دا هوډ لري چي د پښتنو د مشرتوب لنګوټه دي د ده پر سر پاتې شي.
موږ ته په کار ده چي د پرويز مشرف دا خبره چي بوش ته يې کړې وه چي افغانستان کي تاسي د پښتون قوم چاره وکړئ او دلته (پاکستان ) کي به يې زه بيخ وروباسم، دا ډول د نواز شريف خبره چي کله مجاهدين کابل ته ننوتل، د افغانستان اردو مي له منځه يوړه، زه وايم چي دوی د شاباسي وړ دي، دوی خو خپل هدف ته ورسېدل، افسوس خو زما د قوم د مشرانو پر حال دی، چي سياسي بصيرت نه لري، او لنډ فکر کوي، موضوعاتو ستراتيژيک او علمي فکر نه کوی.
په شمال کي د بل وزيرستان او ډيورنډ خبره بيا ما تکرار کړه، اوس چي کومې جګړې په شمال کي رواني دي، هغه سيمې تاسي وڅيړئ او بيا د وژل شو کسانو اړوند معلومات ترلاسه او تحليل يې کړئ
او داچي ځيني کسان خپل قوم ته په سپکه ګوري، دغه عزيز قوم په ناخبره ډول د نورو غلام ګڼي، هغوي چي همدې قوم ورته ازادي اخستي نن يې موږ دهغوي پر غلامي تورنو، خپل قوم په غلامي تورنول د منلو نه دی، د پښتون په وينه کي ازادي نغښتې ده.
په لويو ښارونو کي چي اوس له مجبوريته پښتانه ژوند کوي، خپل کلتور، ژبې او دود ته پاملرنه وکړي، خپل دودونه ورک نه کړی، خپله ژبه پردی نه کړي، خپله جامه بدله نه کړی، او حد اقل د جمعې ورځو او اخترونو او نورو مهمو ورځو کي خپل کلتوري جامي وکاروي.
ولې بايد ماته د لنګی پر سرکولو له امله، د واسکټ اغوستلو له امله تروريسټ وويل شي، دا خو زما د قوم د پوهانو تيروتنه ده چي کله لوړ مقام ته ورسيږي بيا نو خپله جامه هم بدلوي او ژبه هم بدلوي، او بهرنيانو ته داسي په نظر ورکوي چي پښتني جامه د علم او پوهي جامه نه ده، د جنګ، جګړې او تاوتريخوالي جامه ده، زه له دغو مشرانو هيله کوم چي بهرنيانو سره په مجلسونو او ناستو کي پر خپله جامه ونه شرميږي او هغوی ته وښيي چي موږ پوهان او علمي اشخاص هم لرو، او د پښتون جامه يواځي د جنګ جامه نه ده. بلکه د پوهي او پرمختګ جامه هم ده.
په اطرافو کي هم پښتني دودونه په ورکېدو دي، په ودونو کي به پخوا لونګی وېشل کيدلي، د خوشالي ډزې به کيدلي، خلکو به مينه او محبت کاو، مګر کرار کرار دا هر څه بدليدونکي دي، زه د دي طرفدار يم چي په ودونو کي پښتانه مشرانو ته د لنګيو ورکولو دود ورک نه کړو.
جنجالي خبره زما د ټوپک خبره وه، چي ځيني دوستانو ته به عجيبه معلومه شوې وي، راځئ يو ځل د ټوپک تعريف وکړو، زما هدف له ټوپک څخه پخوانی يو ډزی انګريزی ټوپک نه دی، زما هدف ورڅخه کلاشينکوف او پيکا نه ده، زما هدف د وسلو ټيکنالوژي ده، موږ په افغانستان کي غالبا د امير عبدالرحمن خان په وخت کي د ټوپک جوړولو فابريکه درلودله، مګر ولي يې پرمختګ ونه کړ، ګاونډي هيوادونه مو د اتوم بم، ټانک او جيټ الوتکو خاوندان شول، ايران اوس ورته ملا تړلي ده؛ خو موږ هغه نږدې نيمه پيړۍ مخکنۍ د ټوپک جوړولو فابريکه هم له لاسه ورکړه.
زه وايم قلم زما خوښ دی، الله ج تر هر څه لومړی قلم پيداکړی، له همدې هم د قلم اهميت معلوم دی، اړتيا يې د اهميت بيان ته نشته، ولې د ځان د دفاع له پاره ټوپک (پرمختللي ټيکنالوژۍ) ته هم اړتيا لرم.
که زما قوم او هيواد ټوپک درلودی، نو په کنړ کي به يې د ګاونډي هيواد د توپونو مخه نيولي وای، که زما قوم او هيواد ټوپک درلودلای، نو زموږ څخه به زموږ دوو ګاونډيو پاکستان او ايران جاج نه اخستی، که ما ټوپک درلودلای زما پر خاوره به يرغلګرو د تاريخ په اوږدو بيا تر ننه تاړاک نه کاو.

زما هدف هیڅکله دانه دی چي زما انجنیر، زما ډاکټر دی خپل ورور ووژني، زما د ټوپک سړی دي خپل افغان ووژني، هدف مي دادی چي موږ د قلم ترڅنګ دي ته اړتیا لرو چي ټوپک (پرمختللي د وسلو) ټکنالوژي هم ولرو.
ټوپک وسله ده، وسیله ده، حربه ده؛ ټوپک لرل د ځان وژني په معنا نه ده. ټوپک د دفاع او د خپل پت او عفت د ساتلو ښه وسیله ده.
د بریتانیا شهزاده ګیري چي په هلمند کي د ټوپک (د الوتکي څخه د افغانانو په ښنه کول او وژل) روزنه کوي، هغوی حق لري، خو زما افغان د ټوپک زده کړي حق ورڅخه اخستل کیږي او درګرده یوه ډله خلک لګیا دي چي په ټوله معنی سره ټوپک (وسله ) نفي کوي.
جاپان څخه چي د ټوپک حق واخستل شو، پای یې څه شو؟ چي له چین سره دوه خبرې د خپلو سرحدونو په اړه نه شي کولای.
سعودي عربستان او امارات چي ټوپک نه لري نن ولي د ایران په وړاندي یې سرونه ځوړند دي. د عراق نه چي ټوپک واخستل شو، نن یې کوم حالت دی؟
اصلاً له ټوپک سره بې ځایه او د پردیو په اشاره مخالفت له خپل امن راتلونکي سره مخالفت دی، د خپل بچي امنیت او سولي له منځه وړل دي. که ستا دښمن، ستا سیمه ییز حریف ټوپک او نوري وسلي لري او ته د یوې عاطفي لپاره ټوپک نفي کوي، ستا به په دغسي د رقابتونو او سیالیو ډکي نړۍ کي څه حال وي؟!
عجیبه دا ده کله چي امریکایان او بریتانویان افغانستان ته راغلل، دوی زموږ له افغانانو څخه اصلي روسي کلاشینکوفونه او کله کوفونه په پیسو واخیستل او خپلو د امنیتي کمپینو ګمارل شو کسانو ته یې ورکړل، افغانانو ته یې خپل کم اصل ټوپک ورکړل، دلته ولي ورونه نه متوجه کیږي چي که له ما څخه وسله اخستل کیږي، او دغه دومره بده وي نو بیا ولي یې دوی کاروي.
په متمدنه نړۍ کي د وسلو ګرځول جواز لري، هو زه دامنم چي له ټوپک لرلو څخه مخکي له مخکي باید د ټوپک د کاروني ځای هم وپیژنو خپل ورور پري ونه وژنو، او پای دا چي که مو ټوپک نه درلودلای، نو چنګیز، مغل، انګریز، شوروي اتحاد او امریکا  ته مو ماتي نه شوای ورکولای.
ټینګار پر دی کوم چي تر هر څه راته مهم قلم دی، خو له قلم سره سره زه هم د نورو په څیر د ځان څخه د دفاع له پاره پرمختللي وسلي ته ضرورت لرم. که مي وسله لرلای نو بیا به د ګاونډیو له ویرې اړ نه وای چي د ابر قدرتونو غلامي ومنم، امنیتي تړونونه ورسره لاسلیک کړم.
نن ولي افغان حکومت پر دي خفه دي چي امریکا خپل ټانکونه او پرمختللي وسلي له افغانستان څخه وباسي او پاکستان ته یې ورکوي، که  بصیرت وای، او موږ توانایي درلودلای دا کار به نه کیدی.
زهر سړی وژني او د مرګ په موخه جوړیږي، خو د ضرورت له امله یې موږ په درملو کي خورو، وسله بده ده، وژنه کوي، مګر د اړتیا په صورت کي د خپل ځان او هیواد نه د دفاع له امله ورته اړتیا لرم.
که بیا هم مدني فعالان او ځوانان یې نفي کوي او په ټولیز ډول یې ځای قلم ته ورکوي، نو بیا په کار ده چي له ډیورنډ نه تیرشو، کنړ او کامه هم پاکستان ته پریږدو، په کار ده چي نیمروز، فراه او هرات ایران ته پریږدو، هسي یې  هم تجاوز په تیرو ۱۳ کلونو کي کړی دی، هم دعوه لري، مزار او شمالي ولایتونه به تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان ته پریږدو، دري واړو اوس زموږ سرحدونه لاندي کړي دي. اصلاً دلته خبره تر ډیره سیاسي او امنیتي ده، دا مسئله په شاعرانه عواطفو او مینه‌ناکو څرګندونو نه شي حلیدای.

او په اخر کي ځيني هغه پوښتني چي د ځيني دوستانو په ذهن کي به ګرځيدلي وي، پټکی او څادر زما کلتور دی، داچي هرڅوک يي سپکاوی کوي زه يي غندم، او ما په خپلو ليکنو کي دا ليکلي چي په پټکي کي د بم کارول زموږ د کلتور خلاف کار دی.

چادري د پښتنو اصلي کلتوري جامه نه ده، ولي د حجاب له پاره ښه ده، څوک چي له همدې جامې نه په ګټې اخستلو يې سپکاوی کوی، د غندني ترڅنګ يو ناسم کار هم دی.

ولي پر دي هم فکر کول په کار دی، چي د چا له خوا؟ ولي او د کوم هدف له پاره دغه خلک همدې ته مجبور کړل شوې چي له کلتوري او دوديزو جامو څخه په استفادې ددوی په اصطلاح خپل دښمن هدف وګرځوي، کوم لامل دی چي همدا افغان يي دومره مجبوره او سرګردانه کړی؟ عوامل وپيژنو د عواملو له منځه وړلو له پاره لاس په کار شو.

داخو د وروستي وخت غوښتنه ده چي څوک ډير غلام وي هغه به ډير ځان ازاد ښيي او د پرديو د غلامۍ په کولو سره به په خپل قوم باداري کوي، مګر يوه هيله ده چي نور نو د آی ايس آی ټاپه دي لطفا ورونه بدله کړي، دا ټاپه زړه شوې ده، نوې حربې ته اړتيا لري، غلامانو ځانونه وښودل.

**د خوشاله او ارام افغانستان په هيله!**